مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ ۲۰۲۱/۰۸/۱۵

# جهل او خجل

دغــه جګــــړه د ذلالت جګـــړه ده
د امـــارت کـه جمهـوریت جګـړه ده

دغـي جګـړې تـه د چا زړه بشه نـدی
د بـي وسـی او مجـبوریت جګـــړه ده

دغـه جګــــړه ځلـمي سـرونــه ریبي
دا د اشــــــراو د ثـــروت جګــړه ده

پــه دي جګـړه کي جهاد جهـل او خجل
د څـو بـي ننـــګو د نفـــرت جګـړه ده

دا لــه عـربــو نـــه را پــاتي میــراث
د دین پـــه نـــوم د جهـالت جګـــړه ده

پــه دي جګـړه کـي دي پردي لاسونـه
پر افغـــانــــو د قـــدرت جګـړه ده

الله په دغــي جګـړي نـدی راضــي
دا د عـــربــــو د فطـرت جګـړه ده

پــه دي جګـړي وهــلی نـورو قمـار
د بل مــزدور د مامـوریت جګړه ده

دا دعـــراق او د لیـــبیا لـه شـرمـه
د اســـلامیت د هـــلاکت جګـــړه ده

پــه فلسطـین کـي جـــهاد نـــدی روا
د اســـرایيلـــو د خلـقت جګـــړه ده

دغـه جګـړه مـلي صبــغه نـه لـري
د استـــــعمار د اقــامــت جګـړه ده

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ